په پانګه‌والو رسنیو کې، د افغانستان انځور له اسلامي افراطیت، جهاد، ټوپکوالو او پوډرو له قاچاق سره په تړاو کې ښودل کېږي. سره لدې چې دا بدمرغه ځانګړنې د نننې افغانستان حقیقتونه دي خو تل داسې نه وه. له نن څخه ۴۰ کاله مخکې یو انقلاب، دا ملک له خپل وروسته پاتې والي څخه راولټاوه چې بېرته بیا د امپریالیستانو پر لاس جوړو شویو بنسټپالو ډلو پر مټ ناکام کړای شو. د منځنې ختیځ په اوسني حال او هلته د شاتګپالو ځواکونو په پیاوړې کېدو د پوهېدو لپاره لومړی اړتیا ده چې د ۱۹۷۸ کال د ثور د انقلاب عروج او زوال باندې ځان پوی کړو.

## تاریخي شالید

افغانستان له جغرافیوي پلوه یو مهم هېواد دی. لکه څنګه چې اېنګلز ارزولو:

”د افغانستان جغرافیوي موقعیت، د خلکو ځانګړی طبیعت، دا ملک له داسې سیاسي ارزښته برخمنوي چې د منځنۍ اسیا په چارو کې یې له رول څخه په ډېرې سختۍ انکار کېدای شي.“

افغانستان منځنۍ آسیا له جنوبي آسیا سره تړي او همدا جغرافیوي موقعیت د دې هېواد په چارو کې لوی رول لري چې دا خبره تر ننه کره ثابته شوې. په شلمه پېړۍ کې دا ملک د برتانوي هېند او څاري روسیې تر منځ د ټکر ځای و. انګرېزانو هڅه وکړه چې دا ملک ونیسي خو په پوره توګه بریالي نشول. سره لدې، هغوی پدې بریالي شول چې ځینې پښتنې سیمې تر خپل واک لاندې کړي او د برېتانوي هند برخه یې وګرځوي. د پښتنو سیمو دې وېش ټې ډېرې ژورې پایلې ولرلې چې وروسته د امریکا او پاکستان لخوا د دې لپاره وکارول شو چې د انقلاب پر ضد وجنګېږي او دا هېواد تر کنترول لاندې راولي.

د شلمې پېړۍ په پیل کې شاه امان‌الله خان، (د امپریالیزم مخالف شخص چې د تورکیې له مصطفا کمال اتاتورک څخه اغېزمن و)، هڅه وکړه چې افغانستان مډرن کړي خو بریالی نشو. تروتسکي په هغې وخت کې دې حال ته اشاره کړې:

”دلته په شرق کې یو بل ملت دی چې نن د ځانګړې یادونې وړ دی (…). دا افغانستان دی. هلته د پام وړ پېښې رامنځته کېږي چې په دغو ټولو پېښو کې د برېتانوي امپریالیزم لاسونه ښکېل دي. افغانستان یو وروسته پاتې هېواد دی. افغانستان د اروپایي کېدو لور ته خپل لومړني ګامونه اخلي تر څو خپله خپلواکي په مهذبه توګه بنسټیزه کړي. د افغانستان پرمختګپال نشنلیست عناصر په واک کې دي او برېتانوي دیپلوماسي یې پر ضد هر شاتګپال ځواک، هغه که دننه په دې هېواد کې وي او که بهر له هند سره په سرحدونو کې، په وسله سمبالوي او د دغو پرمختګپالو عناصرو پر ضد یې دروي. له هغو فرمانونو څخه نیولې چې په ترڅ کې یې نه یوازې د آلمان پانګه‌وال بلکې سوسیال دیموکرات ځواکونه هم د مې په لومړۍ ورځ د کارګرو د لاریونو مخه نیسي، په چین او افغانستان کې پېښېدونکیو پېښو پورې د دغو ټولو ظلمونو او ټکونو تر شا د دویمې نړیوالې ګوندونه دي. تاسو، باید پوی شئ، هغه بریدونه چې د کابل پر ضد د برېتانوی

سرچينو پر مټ منسجمېږي، د پاسيفيست مېکډونالډ تر واک لاندې ترسره
(کېږي.” (تروتسکي: اپرېل ۱۹۲۳

تر امپرياليستي تېري هاخوا، د افغانستان په مډرن کولو کې د امان‌الله خان د
ناکامۍ سبب هلته د ملي بورژوازۍ(ملي پانګه‌واله طبقه) نه‌شتون و. هغه طبقه
.چې په اروپا کې يې صنعتي انقلاب او ملي دولتونه رامنځته کړل
د انقلاب پر وخت ۱۹۷۸ کې، افغانستان په مهمو هېوادو لکه شوروي، ايران، چين
او پاکستان کې ايسار و. وروسته دغو ټولو هېوادو په انقلاب او د انقلاب په
.ناکامولو کې خپل خپل رول لرلو

## افغانستان او استعماري انقلاب

د نړۍ په ډېرو برخو، د ګاونډي هېواد پاکستان په شمول، ۱۹۶۸ کال د ولسي
خوځښتونو او لاريونو کال و. له دې څخه افغانستان هم استثنا نه و. ۱۹۶۸ کال
کې افغانستان د محصلينو او کارګري اعتصابونو د يوې څپې شاهد و. محصلينو په
ښوونيز نظام او نصاب کې بدلون غوښت، د داخلې په پاليسيو يې اعتراض درلود
او دې ته ورته نور. د کارګرو په غوښتنو کې د تنخوا زياتوالی، ښه کاري شرايط،
.رخصتۍ، کم کاري ساعتونه، روغتيايي او طبي بيمه شامل ول

:د افغان تاريخ مشهور ليکوال، لوويس دوپرې هغه حالت په لاندې تورو بيانوي

د محصلينو بېساری ملاتړ، حتا په ځينو سيمو کې د ښوونځيو ملاتړ له کارګرو“
.”څخه، کابل کې ډېر خلک حيران کړي ول

:د محصلينو تر منځ د پوهې کچه ډېره لوړه وه

په ځينو ټولګيو کې، محصلينو انکار کولو چې د مارکسيزم ضد نظريات واوري او“
داسې يوه فضا برابره شوې وه چې يوازې ځينو اکاډميکو شخصيتونو کولای شول
.”د غرب په هکله ځيزونو باندې بحث وکړي

:انقلاب ساري دی او دوپرې هم دا خبره مني

د اړيکو اوسنی حالت، زما په اند، دا موقع مساعدوي چې په نړيواله کچه د“
کې د پوليسو د يوه بريد، (Berkley) محصلينو لاريونونه زيات شي. په برکلې
کولمبيا کې د يوه پاڅون، او يا د محصلينو يا کارګرو د لاربندۍ خبر په پاريس کې
څو ساعتو کې نړۍ ته رسي. او په افغانستان کې هر کلی او هر ښار د
ټرانزېسټر راډيو لري. په افغانستان کې د محصلينو مزاحمت ته په نړيواله توګه
.”د محصلينو په لاريونو کې کتل کېدای شي

د دوپرې نظر پدې هکله چې افغانستان کې د کارګرو پاڅون نړيوالو اغېزو زېږنده

ده سم دی، خو د دې تر شا د خلق د ديموکراتيک ګوند منظم فعاليت هم و، ځکه دا د ګوند ستراتېژي وه چې د کارګرو تر منځ به سياسي کار کوي.

مارکس په ښکېلاک لاندې ملکونو کې د انقلاب په هکله ډېر څه ندي ويلي ځکه هغه يې وړاندوينه يوازې په پرمختلليو صنعتي ملکونو کې کړې وه. دا کوم تصادف نه و بلکې په هغې دور کې اروپا د نړيوال انقلاب مرکز و.

تر ښکېلاک لاندې ملکونو او يا هغو ملکونو کې چې پخوا تر ښکېلاک لاندې ول دا ناممکنه ده چې د پخوانيو طبقاتي اړيکو پر بنسټ پرمختګ وشي. پدغو ټولو ملکونو کې د ملي ديموکراتيک انقلاب، زراعتي انقلاب، د فيوډالي او يا مخکې له فيوډالی پاتې‌شوني، د فرانسې د بورژوا انقلاب (۱۷۸۹) پر کرښو نشي حل کېدای. د ښکېلاک لاندې ملکونو بورژوازي(پانګه‌واله طبقه) ډېر وروسته، هغه وخت منځته راغله چې پانګه‌والو اړيکو وخته ټوله نړۍ تر واک لاندې راوستې وه. همدا دليل و چې په ښکېلاک لاندې ملکونو کې ملي بورژوازي د دې وړ نه وه چې د غربي بورژوازۍ په توګه، چې د پانګه‌والې ټولنې په رامنځته کولو کې يې سلګونه کاله مخکې خپل رول لوبولی و، رول ولوبوي.

په ښکېلاک لاندې ملکونو کې بورژوازي ډېره کمزورې ده او خپلې سرچينې يې دومره ندي چې پر مټ دې يې له غربي صنعتي اقتصادونو سره سيالي وکړای شي. په لنډه کې، هغوی له يوه اړخه زړې ټولنې سره او له بله اړخه امپرياليزم سره په زرګونو تارونو کې تړلي دي چې په همدې خاطر د حاکم سيستم دفاع کوونکی ځواک ځنې جوړوي. په همدې دليل تاريخ د ملي ديموکراتيک انقلاب او د سوسياليستي انقلاب دواړو مسوليت د کارګرو پر اوږو اچولی.

د ټولنيزو اړيکو خوسا حالت، د امپرياليزم نسبي کمزوري او د جګړې مخکې حالت کې د چين زورور صنعتي پرمختګ او ثبات تر ښکېلاک لاندې ملکونو کې لويو ټولنيزو بدلونو او انقلابونو ته لار هواره کړه. خو د روسي انقلاب ستالينيستي زوال او د چينايي انقلاب ستالينينستي بدلونو له هماغه پيله، سره له برياو يې، دا لار هواره کړه چې په ښکېلاک لاندې سيمو کې انقلابونه يوازې د ملي کرښو په نظر کې نيولو سره وشول او له پيله يې په بنسټيزه توګه بڼې بدلې وې. دا په افغانستان کې د انقلاب شاليد و او په حقيقت کې د انقلاب د ناکامۍ او د انقلاب ضدو کړيو د بريا بنسټ و چې زه به يې همدلته تشريح کړم.

## د خلق ديموکراتيک ګوند

د خلق ديموکراتيک ګوند بنسټ په کال ۱۹۶۵ کې د جنورۍ په لومړي تاريخ د ګوند د مشر  نورمحمد ترکي په کور کې کېښودل شو. د ګوند موخې په لاندې ټکو کې بيان شوې وې:

“او جنګېږو پر ضد طبقاتو ځينو د لپاره ګټو د طبقاتو ځينو د مور چې پوهېږو مور به د ټولنيزو اصولو پر بنسټ د زيارايستونکو په ګټه داسې يوه ټولنه رامنځته کړو چې له هر راز فردي زبېښاکه پاکه وي.” (د خلق ديموکراتيک ګوند ته لومړی

وينا)

خو ګوند ډېر ژر په کال ۱۹۶۷ کې شاه سره د اپوزيسون پر پوښتنه درز سره مخ شو.
له ګوند څخه دوه ډلې جوړې شوې، چې هر يو يې جلا نوم خپل کړ او په هماغه نوم يې ورځپاڼې چلولې - حال دا چې دواړو ډلو له تيوريکي پلوه د شوروي پر پلونو پل ايښودو - خو د پرچم ډله د نشنليزم لور ته مايله وه. د دې ډلې بنسټ د ښارونو منځنۍ طبقه خلک ول او د کار ډېر تمرکز يې په وسله‌والو ځواکونو و. بلې خوا ته د خلق د ډلې تمرکز په طبقاتي توپيرونو و او تمرکز يې پر ښاري کارګرې طبقې او کليوالې بېوزلې طبقې و.

يوه ډېره مشهوره اوازه دا ده چې ويل چې کېږي د خقل ديموکراتيک ګوند ولسي بنسټ نه درلود. خو جدي افغان تاريخ ليکونکي دې خبرې سره موافق ندي او پدې نظر دي چې د خلق ديموکراتيک ګوند په کليوالو سيمو کې قوي ولسي ملاتړ درلود. تر دې هاخوا، د دې ثبوتونه شته دی چې د خلق ديموکراتيک ګوند پدې بريالی شوی و چې پاکستان سره تر کرښې هاخوا پښتنو سيمو کې هم د مطالعې کړۍ رامنځته کړي.

**انقلاب**

په ۱۹۷۳ کې داود خان - د شاه د تره زوی چې پښتون سياست ته لېواله و - د يوې قصري کودتا به ترڅ کې واک ونيو. پدې کودتا کې ورسره د پرچم د ډلې فعاله مرسته وه چې په پای کې يې په رسمي توګه شاهي نظام ړنګ کړ. داود له شوروي سره نيږدې اړيکې درلودې. د داود د رژيم په پيل کې کمونيستانو د ازادو فعاليتونو نه ګټه اخيسته. خو کله چې په ۱۹۷۷ کې خلق او پرچم بېرته سره يو ځای شول او د دوی نفوذ په ملکي او پوځي ليکو کې زيات شو، دوی رژيم ته په ګواښ بدل شول.

د اپرېل په ۱۸مه ۱۹۷۸ کې د کارګرو د اتحاديې او د پرچم د ډلې مشر، مير اکبر خيبر، په مرموزه توګه ووژل شو. د هغه په جنازه کې، چې کابل کې وه، په زرګونه خلک راټول شول. د ميراکبر خيبر مرګ او جنازه رژيم ته يو لوی ګواښ و. او د رژيم او د ګوند تر منځ دا د ژوند و مرګ لوبه لا هم پسې زوروره شوه. لس ورځې وروسته د اپرېل په ۲۸مه ۱۹۷۸ د خلق ديموکراتيک ګوند د يوې کودتا په ترڅ کې واک ترلاسه کړ چې مشري يې د خلق ډلې کوله.
جالبه دا ده چې د خلق ديموکراتيک ګوند له دواړو ډلو څخه يوې ډلې هم په نيږدې وخت کې د انقلاب په هکله نظر نه درلود. شوروي هم په ورته ډول. دا انقلاب د شوروي بيوروکراسۍ ته يو لوی تعجب و. انقلاب د داود د رژيم لخوا د خلق د ديموکراتيک ګوند د ټکولو په پايله کې رامنځته شو. او د خلق د ديموکراتيک ګوند لپاره دا د ژوند او د مرګ په پوښتنې بدل شو. د ميراکبر خيبر تر وژنې وروسته، د کمونيستانو تصفيې زور واخيست. رژيم د اپرېل په ۲۶مه په نيمه شپه د ګوند غړي، د دوی د مشر نورمحمد تره‌کي په شمول، بندي کړل. دا د داود د رژيم لخوا يو خطرناک ګام و.

په سبا يې يو له مخکې پلان شوی، په ځانګړې توګه ورته ګواښمن حالاتو لپاره تيار شوی، آپرېشن د خلق د ديموکراتيک ګوند لخوا عملي شو. شاوخوا ۲۵۰ ټانکونو او زرهي موټرو پدې کودتا کې برخه واخيسته. هغو افسرانو چې د ګوند غړي ول د ځمکنيو او هوايي ځواکونو مشري په لاس کې واخيسته. د مازيګر ۵:۳۰ بجو شاوخوا کې واک د باغيانو لاس ته لوېدلی و. د ګوند بندي شوي مشران د بريا په دود راخوشې کړای شول. د کابل راډيو او د باګرام او کابل هوايي ډګرونه يې تر واک لاندې راوستي ول. په هماغه مازيګر يې د انقلاب د بريا خبر د کابل له راډيو څخه خپور کړ.

د افغانستان د ثور انقلاب د روسيې د بولشويکو د ۱۹۱۷ د اکتوبر د انقلاب په څېر نه و، چېرې چې واک د کارګرو او بزګرو د لوی ولسي خوځښت لخوا، د لېنين او تروتسکي په مشرۍ، تر لاسه شو. د دې پېښې د تعريف لپاره چې په افغانستان کې تجربه شوه، بريتانوی مارکسيست ټېډ ګرانټ د پرولتارياو بوناپارټيزم اصطلاح وکاروله. پداسې حال کې چې کپيټاليزم او ځمکواکي(فيوډاليزم) له منځه وړل شوي او د اقتصاد تر ټولو لويه برخه پکې ملي شوې خو واک بيا هم د کارګرو پر ځای د پوځ او پوليسو يو ګونديزې دکتاتورۍ سره دی.

ټېډ ګرانټ دا کودتا په لاندې ډول تشريح کوي:

“کودتا هله زور واخيست کې کله داود د ټولو مخالفينو د ټکولو هڅه وکړه. د هغه رژيم يو ګوندي فيوډالي بيوروکراټيک رژيم و. د ملک د کارګرو کوچنۍ برخې د کارګرو اتحاديې نلرلې چې پکې راټول شي وای.

که انقلاب خپله د ولسي پاڅون طبيعي بڼه خپله کړې وای، پايله به يې له هغې څخه ډېره بدله وه چې په افغانستان کې رامنځته شوه. د ۱۹۷۸ د اپرېل انقلاب د پوځ د لوړپوړو چارواکو او د منځنۍ طبقې د ښارونو د روښاندو مشرانو پر مټ رامنځته شو.

هغوی کودتا د هغو هڅو د مخنيوي په لار کې وکړه چې په لړ کې يې بايد دوی او د دوی کورنۍ له منځه وړل شوې وای. هغوی د ځانساتنې په پار د دغې عمل ترسره کولو ته اړ شول خو دا موخه هم ورسره وه چې افغانستان نوې نړۍ ته راوړي.

وروسته له هغې چې پخوانی سولېدلی نظام يې ړنګ کړ او واک ته ورسېدل، افسرانو، چې نور د فيوډالې طبقې او امپرياليزم لخوا رد شوي ول يوازې د کوچنۍ کارګرې طبقې او بېوزلو زيارايستونکيو لخوا ملاتړ ترلاسه کولای شو. او د دې لپاره ورته تر ټولو ښه ماډل د شوروی اتحاد و. هغه هېواد چې پلان‌شوی اقتصادي سيستم يې درلود خو د پوځي مشرانو په ګټه، د بره څخه کښته لور ته يو توتاليتر سياسي سيستم و.

## **☐ افغانستان د ژغورنې مبارزه**

د خلق ديموکراتيک ګوند ته يو داسې هېواد په ميراث پاتې و چې په ډېر بد حالت کې و. ټولنيزې ستونزې ژورې او پراخه وې. دا د نړۍ تر ټولو بېوزلو هېوادونو څخه

و. د انقلاب په وخت کې د مملکت د خلکو شمېر ۱۵.۱ میلونه و، چې یوازې ۱۴سلنه یې په ښاري مرکزونو کې اوسېدل. پاتې ۱۳ میلونه په کلیو کې اوسېدل او د کلیو یو نیم میلونه وګړي کوچي ول.

د بېسوادۍ کچه په حیرانوونکې تګه لوړه وه چې ۹۵ سلنه ترېنه کړېدل. یو داسې هېواد چې سمندر ته یې لار نلرله او مساحت یې ۱۶۰ میلونه هکتاره وو. له دې څخه یې یوازې ۱۲سلنه د کرکیلې وړ وه او د کرکیلې وړ ۶۰ سلنه ځمکه هر کال ناکرلې پاتې کېده چې ډېر کله به یې سبب د اوبو نشتوالی او څه نا څه د فیوډالي شاته‌پاتې سیستم و چې کلیوالې سیمې ترې اغېزمنې وې. دا د حاکمې فیوډالې طبقې او امپریالیزم له کبله وه چې ملک یې تر دې دمه زېښلو.

د خلق دیموکراتیک ګوند دا اټکل وکړ چې ۴۵سلنه زراعتي ځمکه د ۵ سلنو ځمکوالو لاس کې وه. زیارایستونکي او بزګر په ډېر بدمرغه حالت کې اوسېدل چې په ځانګړې توګه د لویو ځمکوالو او بزګرو پوروړي ول.

کلیوالې سیمې له ټولنیز پلوه وروسته پاتې وې او خپل قبیلوي سیستم یې، چې د اسلام بدلې شوې بڼې سره اخښل شوی و، درلود. له اقتصادي او ټولنیز پلوه ملایان کمزوري او د ټولنې د ټیټې طبقې څخه ول. فزیکي بېخبنا موجوده نه وه. دا حقیقت چې د ۱۹۷۸ د انقلاب په وخت کې ان یوه کلي هم برېښنا نه درلوده د فزیکي بېخبناو ډېر خراب حالت ښیي. د روغتیایي، ښوونیز، ارتباطي او نورو ټولنیزو فزیکي بېخبناو له اړخه افغانستان د نړۍ له وروسته پاتې هېوادونو څخه و.

صنعي بنسټ ډېر کمزوری و، او صنعتی تولیداتو د ټول هېواد د ناخالصو صنعتي تولیداتو ۱۷سلنه جوړوله چې د پېرودونکیو یوازې ۱۰ تر ۱۵ سلنه اړتیاوې یې د بورې، نساجۍ، بوټانو او نورو له اړخه پوره کولې. د صنعتي کارګرو شمېر یوازې ۴۰ تر ۵۰ زرو تنو پورې و چې له څلورو تر پنځو ښاري مرکزونو کې راټول ول. تر ټولو لوی ښاري صنعتي ښار پلازمېنه کابل و.

د کاري قوې یوازې نیمایي یې په کاري‌خونو کې په کار بوختې وې چې کاري قوه یې له زرو زیاته وه. حال دا چې کارګري اتحادیې غیرقانوني وې خو د ۱۹۶۸-۶۹ کلونو د اعتصابونو په څپه کې لویو کاري خونو اعتصاب وکړ چې دا د دې خوځښت انقلابي اړخ ښیي.

سره له هغو سختو حالاتو چې د خلق دیموکراتیک ګوند ورسره تر واک رسېدو وروسته مخ و، ګوند ژمن و چې د افغانستان برخلیک به بدلوي. واک ته ترسېدو وروسته ګوند ډېر ژر په لویو ریفورمونو لاس پورې کړ.

د پام وړ لومړی کار یې د صنعت ملي کول و. څو کاله وروسته دې پالیسۍ د صنعتي تولید په برخه کې خپلې پایلې وښودې. د بېلګې په ډول په ۱۹۷۸ کې د پروسس او کانونو صنعت د ملي درآمد ۳.۳ سلنه جوړوله. په ۱۹۸۳ کې دا درآمد ۱۰ سلنو ته لوړ شو.

اووم فرمان د واده په برخه کې ریفورم راوست. تر ټولو د پام وړ یې د پېړیو د زوړ دود، ولور له له منځه وړل ول. په همدې فرمان کې د واده لپاره د نجونو او هلکانو قانوني عمر هم وټاکل شو.

ځمکه ووېشل شوه او کولیکتیف زراعت رامنځته شو. د ځمکې پر ملکیت حدود وټاکل شول. دا ریفورمونه په ټولنیزو او اقتصادي برخو کې بې‌حده اړین ول، خو سربېره پر دې یې زراعتي تولید کې هم ښه‌والی راوست. له واک څخه یو کال وروسته دا اټکل وشو چې ۸۲۲،۵۰۰ هکتاره ځمکه په ۱۳۲زره کورنیو ووېشل شوه. د اوبو وېشل، چې مخکې د ځانګړو وګړیو او کورنیو دنده وه، د زراعت د وزارت تر لاس لاندې د دولت دنده شوه.

د بېسوادۍ د له منځه وړلو لپاره هم ورته ریفورمونه راوستل شول. یو د پام وړ کار چې پدې برخه کې وشو هغه د چاپي مرکزونو ملي کول ول. دې کار د ښوونیزو توکیو په زیاتوالي کې ډېر رول ولوبولو. ورسره یې تر څنګ دې ته هم لاره هواره کړه چې وړو لږکیو قومي ژبو ته هم په خپلو ژبو درسي توکي تیار کړي.

ښځو او نرینه ته ګډ حقوق ورکړل شول او کارګرو ښځو ته د میندوارۍ په وخت کې د کورناستي پر وخت هم تنخا وټاکل شوه. دغو ریفورمونو په ټوله سیمه کې ساری نه درلود. پلان شوي اقتصاد ډېر په چټکۍ سره خپل اغېز  د اقتصاد په بېلابېلو برخو کې وښود. د بېلګې په توګه، د پنځو کالو په لړ کې تر ۱۹۸۳ پورې ۱۰۰ نورې کارخانې جوړې شوې. د بېخبناو له اړخه د روغتونو په کټونو کې ۸۴ سلنه او ډاکټرانو کې ۴۵ سلنه زیاتوالی راغی. پخوانۍ شتمنې طبقې د امتیازاتو او زور له اړخه لویه ضربه وخوړه او د امپریالیزم ګټې تر ګواښ لاندې راغلې.

## <u>د انقلاب پر ضد کړۍ</u>

پانګه‌وال سیستم، په نړیواله کچه سره اوبدل شوی سیستم دی. په همدې دلیل د نړۍ په ډېر کوچني او وروسته پاتې هېواد کې کپیټالیزم ته ګواښ هم د ټول کپیټالیزم ستراتېژیو ته د منلو نه و. د انقلاب لومړی کال په نسبي توګه ښه تېر شو. یوه عامه تېروتنه چې ډېر خلک یې کوي دا ده چې فکر کوي امریکا یوازې هله د افغانستان په چارو کې پر لاس وهلو پیل کړ چې کله شوروي برید وکړ. خو حقیقت دا دی چې امریکایي امپریالیزم د انقلاب پر ضد ان هغه وخت په خپلو ستراتېژیو کار پیل کړ چې پخوانی شوروي لا افغانستان ته راغلی نه و. کله چې امریکا په خپل کار پیل کړ، د امریکایي امپریالیزم ستراتیژیستان په دې اند ول چې شوروي به د افغانستان چارو کې لاسوهنه نکوي. د ۱۹۷۹ په پسرلي کې امریکایي امپریالیزم د شاتګپالو ډلو په راپورته کولو پیل وکړ. سي‌آي‌ای ولسمشر جیمي کارټر ته د افغانستان د انقلاب د مخالفینو د ملاتړ لپاره خپل لومړنی وړاندیز ولېږلو. امریکایانو پر سعودي عربستان او پاکستان د انقلاب پر ضد د ستراتېژۍ د جوړولو لپاره غږ وکړ. د غربي نړۍ ډالر او لېبرالیزم، د

سعودي عربستان له وهابیزم سره ګډ شو چې د پاکستان پوځي دیکتاتور جنرال ضیاءالحق یې ملاتړ وکړ او د انقلاب پر ضد یې یو ناپاکه ائتلاف جوړ کړ.
په هماغه اوږي د جیمي کارټر ادارې سي‌آی‌ای ته واک ورکړ چې ۵لکه ډالر پدې کمپاین ولګوي. د وخت په تېرېدو سره د پام وړ پانګه‌والو ملکونو په یو نه یو ډول مرسته وکړه چې د اسلامي افراطیت په نوم بلا رامنځته کړي تر څو د انقلاب پر ضد یې وجنګوي - هغه بلا چې تر ننه یې خپله جوړوونکي هم په ښو او بدو بښو ورسره مخ کېږي. نن، غربي رسنۍ اسلامي تاوتریخوالی داسې ښيي لکه دوی پورې چې هیڅ اړه نلري. خو په حقیقت کې نننی بنسټپالي د غربي امپریالیزم د پالیسیو سیده پایله ده.

## ستونزې

د ثور انقلاب خپلې ځانګړې کمزورتیاوې لرلې. یوه ښکاره وه: د ملک ژور اقتصادي او ټولنیز وروسته پاتې‌والی، چې له کبله یې کوچنۍ کارګرې طبقې په انقلاب کې هیڅ خپلواک رول نه درلود. د یوه نړیوال انقلاب په نه‌شتون کې، د ثور انقلاب یوازې پاتې شو. او دغې ستالینیستي ناوړې تیورۍ، چې ګوندې انقلاب به په یوه هېواد کې جوړېږي او بریالی کېږي، حالت پسې بېخي خراب کړ.

بله کمزورتیا د خلق د دیموکراتیک ګوند جوړښت و. ګوند هیڅ په یو منظم لېنینیستي اورګنایزېشن بدل نشو او واک ته رسېدو سره سمدستي ګوند کې دننه د واک پر سر د ډلو شخړې پیل شوې. خو د ډلو تر منځ جلاوالي ته پخواني شوروي هم لمن وهله. په حقیقت کې د شوروي بیوروواکراسۍ د ګوند دننه خپلمنځي شخړو کې په برخه اخیستو ډېر شاتګپالی رول ولوبولو. هغوی د خلقیانو پر ضد د پرچمیانو ملاتړ وکړ. خلقیانو د شوروي د مداخې کلک مخالفت کولو او خبرداری یې ورکړی و چې دا به ډېرې بدې پایلې ولري.

د ۱۹۷۹ په ډېسمبر کې شوروي پوځي مداخله پیل کړه. پرچمیان واک ته راوستل شول او د خلقیانو د ډلې تصفیه او تخلیه پیل شوه چې دې کار خلقیان کمزوري شول او واک یې په لرېدو پیل شو. خپلمنځي شخړې له اوږي څخه پیل شوې وې.

د خلق ډلې دا ګومان کولو چې په بهرنۍ سیاست کې نیوترال پاتې کېدل به یې نوي جوړ کړي رژیم ته دوستانه چاپېریال رامنځته کړي. خو په حقیقت کې، د شوروي د یرغل سره، افغانستان د دوو زبرځواکونو د جګړې میدان شو. او افغانستان ډېر ژر د روسي پوځونو په ډنډ بدل شو.

## <u>□ □□□□□□ □□ □□□ بریا</u>

ورو ورو ټولې بریاوې له لاسه لاړې، ځکه رژیم مخالفینو سره د پوخلاینې لار ونیوله او په ۱۹۸۸ کې شوروي له هېواده ووت. رژیم په هغې وخت کې بې‌حده

کمزوری و او په ۱۹۹۲ کې مجاهدینو واک ترلاسه کړ. وروسته، د مجاهدینو لاندې ډلو داسې یوه باغي ډله رامنځته کړه چې پاکستان یې تر شا و. دا ډله نن د طالبانو په نوم پېژندل کېږي چې بیایې واک ترلاسه کړ او د پرچمي رژیم مشر نجیب‌الله یې ووژلو.

تر انقلابه وروسته د انقلاب پر ضد ۲۶ کلنې بنسټپالې جګړې افغانستان بیا د بربریت لور ته یووړ. دغو انقلاب ضدو ډلو نه یوازې افغانستان بلکې پر ټوله سیمه اغېز وکړ، په ځانګړې توګه پاکستان. د پوډرو قاچاق د مجاهدینو او انقلاب ضدو کړیو لپاره د مالي سرچینې په توګه وکارول شو. همدې ستراتېژۍ نن افغانستان د هیروپینو تولید له مخې د نړۍ لومړی درجه هېواد کړ. اټکل کېږي چې په افغانستان کې څه باندې ۵لکه هکتاره ځمکه د کوکنارو د کرلو لپاره کارول کېږي. په ۲۰۱۷ کال کې د کوکنارو تولید ۹زره ټنه و.

د افغانستان د ثور انقلاب له ځمکواکۍ او پانګوالۍ څخه د افغانانو او د ټولې سیمې د ژغورنې د هیلو استازی و. دا هیله د امپریالیزم لخوا په وینو کې ډوبه شوه. نن، که غواړو چې شاتګپالي ځواکونه مات کړو، یوازینی انتخاب دا دی چې په طبقاتي کرښو سره منسجم شو. د هغو بدمرغیو انتقام، چې پر افغانانو راوړل شوې، یوازې دا کېدای شي چې د انقلاب ضدو کړیو پر ضد بېرته سوسیالیستي انقلاب راژوندی شي. دا هغه انتخاب دی چې پر مټ یې نه یوازې افغانستان بلکې ورسره پاکستان هم د بربریت  له هغو چنګالونو راویستی شو چې کپیټالیزم او امپریالیزم پکې نښلولي. دا تاریخي مسولیت د سیمې او د پرمختللې کپیټالیستې نړۍ د کارګرو پر اوږو دی. د دې لپاره چې دا ترلاسه شي، دا ضروري ده چې په نړیواله کچه د کارګرې طبقې یو اورګنایزېشن رامنځته شي.